# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د نحمیاه یو عظیم دېوال

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



فارس چې یو طاقتور قوم وو په دنیا باندې بادشاهی وکړه. او ارتخششتا بادشاه په فارس باندې بادشاهی وکړه. هغۀ هغه د دنیا د ټول نه ښۀ بادشاه جوړ کړو. د بادشاه په خدمت کوونکو کښې یو یهودی کس وو چې نوم یې نحمیاه وو. د هغۀ دا کار وو چې بادشاه د زهرو نه د بچ کولو د پاره د بادشاه ډوډئ اول څکله.



یوه ورځ نحمیاه د بادشاه وړاندې ډېر خفه ودرېدلو. بادشاه دا معلوموول غوښتل چې آیا څهٔ غلط شوی دی. نو نحمیاه ووئیل. اے بادشاه تهٔ دې همېشه ژوندې اوسې. زهٔ په دې خفه یم چې په کوم ښار کښې چې زما پلار نیکهٔ دفن دی هغه ښار په کنډرو بدل شوے دے، او دروازې یې سوزولے شوی دی. نحمیاه د یروشلم په باره کښې خبره کوله، کوم چې ډېر کالو مخکښې په جنګ کښې تباه شوے وو.



3

ارتخششتا بادشاه تپوس وکړو. نو تهٔ څهٔ غواړې؟ نحمیاه ورته درخواست وکړو چې ما پرېږده چې زهٔ یروشلم ته لاړ شم. د دې د پاره چې زهٔ هغه دوباره جوړ کړم. ارتخششتا بادشاه هغه له اجازت ورکړو. او د سفر د پاره یې نحمیاه له د خفاظت د پاره یو سرکاری خط هم ورکړو.



4

بادشاه د هغهٔ نور مدد هم وکړو. هغهٔ نحمیا له یو بل خط هم وکړو هغه د آسف د پاره وو څوک چې د بادشاه ځنګل خیال ساتونکے وو. آسف له دا حکم ورکړے شو چې هغه دې ډېر لرګی راجمع کړی ځکه چې نحمیاه د ښار د دېوالونو د جوړولو د پاره وئیلی وو.



5

کله چې نحمیاه یروشلم ته ورسېدو نو هغه د ښار خلق راجمع کړل او ورته یې ووئیل، مونږ دلته په تکلیف کښې یو. ځکه چې ښار تباه شوے دے او دروازې یې سوزولے شوی دی.



6

نو اوس به مونږ دا دوباره جوړول شروع کړو. هغهٔ هغوئ ته ووئیل چې ارتخششتا بادشاه ما له اجازت راکړے دے، او د ټولو نه اهمه خبره دا چې خدائ پاک د هغوئ په طرف وو.



7

د نحمیاه ایمان او د جوش او جذبې د خلقو حوصله افزائی وکړه. هغوئ په دې خبره باندې اتفاق وکړو، چې راځئ چې دا ښار بیا جوړ کړو. نحمیاه هر یو خاندان ته ووئیل چې دېوال ټکړه تاسو له ټیک کور په کار دی.



8


خو هغه ټولو د دېوال په دوباره جوړولو باندې اتفاق ونهٔ کړو. سنبلط خورونی نومې یو سړے او د هغهٔ ملګری عمونی غلام طوبیاه او عربې حیشم یهودیان نهٔ وو او هغوئ نهٔ غوښتل چې
دېوالونه دې دوباره جوړ شی او د دروازو مرمت دې وشی.
9


څنګه چې کار شروع شو، نو سنبلط حورونی ډېر زیات خفه شو. او هغهٔ ملګرو یهودیانو پورې ټوقې وکړې. طوبیاه ووئیل، کله چې دوئ د دې وړوکی دېوال جوړول مکمل کړی. نو یوه وړه شان لومبړه به دا رېزه رېزه کړی.
10


خو نحمیاه هیڅ جواب ورنهٔ کړو. د دې په ځائ هغهٔ دعا وغوښتله او وې وئیل چې مالکه تهٔ دوئ سره پوهه شه.
11


کله چې د دوئ ټوقو په هغوئ پاندې څهٔ اثر ونهٔ غورزولو، نو هغوئ په شریکه باندې د یروشلم خلاف جنګ کولو او د مصیبتونو پیدا کولو منصوبه جوړه کړه.
12


نحمیاه د خدائ پاک نه د مدد د پاره دعا وغوښتله. هغهٔ د ورځې او شپې د پاره یو محافظ هم مقرر کړو، چې په هغوئ باندې ناڅاپه حمله ونهٔ شی.
13


یهودیانو به دومره محنت کولو، هغوئ به ستړی شول. څهٔ په کښې ویرېدل هم چې هسې نه دشمن راشی او مونږ کار کوو نو مونږ به قتل کړی. خو بیا هم نحمیاه دا منصوبه ونهٔ دروله. هغه د کار کوونکو نه ګېرچاپېره محافظان مقرر کړل. او هغوئ ته یې دا رایاد کړل چې خدائ زمونږ مل دے او د هر قسمه دشمنانو نه خدائ پاک ډېر طاقتور دے.
14


نحمیاه د یو ښۀ مثال
قائمولو کوشش وکړو. او
ارتخشَشتا بادشاه هغه د
یروشلم ګورنر جوړ کړے
وو. چې هغه دې د خلقو نه
خوراک او پیسی اخلی، خو
هغۀ داسې
ونۀ کړل.
15


هغه خلقو سره په شریکه
باندې ډېر سخت محنت
وکړو او هغوئ دېوال
دوباره جوړ کړو. او هغۀ
د خوراک اخستلو د پاره
خپلې پیسې استعال کړې.
16


آخر دا چې خلقو د دېوال جوړولو کار ختم کړو، خو صرف
د دروازو مرمت کولو پاتی وو. کله چې سنبلط، طوبیا،
حیشم دا واورېدل چې اوس دېوالونو کښې څۀ کار پاتې نۀ
دے. نو هغوئ نحمیاه له د نقصان ورکولو اراده وکړه.
17


هغوئ نحمیاه ته دا پېغام ولېږلو چې د اونو په نوم ځائ
کښې ورسره ملاو شی. خو نحمیاه ته دا پته وه چې هغوئ
دا کوشش کوی چې ما دا ښار نه وباسی. د دې د پاره چې
هغوئ هغۀ ته نقصان ورسوی. هغۀ هغوئ ته په جواب
کښې ولیکل چې زۀ تاسو سره د ملاوېدو د پاره کار نۀ شم
پرېښودلے.
زۀ نۀ
شم
راتلې
18


آخر دا چې د
دېوال
جوړول ختم شول، او نحمیاه
د هغوئ حفاظت وکړو.
19


هغۀ یو دا
اصول
جوړ کړل
چې د ښار
دروازې به د
نمر ختلو نه
مخکښې نۀ کولاویږی.
او د شپې په وخت کښې
هغه بلکل بندې وی.
20

اوس دا ښار محفوظ وو، او د دنیا د مختلفو حصو نه
ډېر یهودیانو واپس یروشلم ته راغلل. اوس نحمیاه خامخا
خوشحالېدل په کار وو، ځکه چې هغهٔ د خدائ پاک کار، سره
د ټولو روکاوټونو
په باوجود مکمل
کړو. هغه به
یروشلم کښې
اوسېدو او هغهٔ به
همېشه د خلقو
مدد کولو چې خلق
د خدائ پاک
اطاعت کوی.



21

د نحمیاه یو عظیم دېوال

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

نحمیاه

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

22

# ختم شو

35

60

23

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا ربنتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

24